**لوړو زده کړو وزارت**

**وردګ پوهنتون**

**دښوونې او روزنې پوهنځی**

**دنظم او دسپلین کمیته**

# د ښوونې او روزنې  پوهنځی د مشرتابه، استادانو، اداري کارکوونکو،او محصلینو لپاره اخلاقي پالیسي

**کال ۱۴۰۰ هـ ش**

Scanned with ACE Scanner

## د اخلاقي طرزالعمل د جوړیدو اړتیا او مؤثروالی

څلویښت کلن ناورین چه په هیواد کې تېر او لاهم روان دئ، زیات منفي اغېز له ځان سره لري، چه له بده مرغه د ټولنې په ټولو برخو یې منفي تا ثیر کړی دی چه له دې تاثیر څخه د لوړو زده کړو مرکزونه او پوهنتونونه هم لیرې ندي.

هغه اغیز داسې چه زیات کسان د خپلې دندې د نه پیژندلو، د خپلې خوښې حرکات، علمي ارزښتونو ته نه درناوی .... او داسې نورې کړنې چه انساني او اخلاقي اصول یې نه ایجابوي بارز دي.

په افغانستان او نړی کې زیات شمیر پوهنتونونه شون لري، خو زیاتره یې خپل درسي پلان په ښه توګه نشي رسولای، همدارنګه خپل اداري کارونه په ښه توګه نشي سمبالولای، اونه شي کولای چه خپل درسي، اداري او نورو برخو کیفیت سم کړي ، د دې لامل پواځې اوپواځې بد چلند او بې تفاوتي ده.

پواځینی لار چه د پو هنتون په هر کونج کې د جنسي ځورونې، اخلاقي فساد، اداري ځوړتیا او د تدریس د کمزورتیا مخه نیسي هغه د اخلاقي طرزالعمل جوړونه ده او د هغه پلي کول دي چه  د همدې علمي مرکز پر رهبري، استادانو، اداري کارکوونکو او محصلینو باندي مثبت اغیز کوي.

### د اخلاقي طرزالعمل د جوړیدو ټولشموله هدف:

د دندې پرمهال د اخلاقي نورمونو ښه کول، په اکاډمیکو څایونو کې د اخلاقي اصولو پلي کول، کله چه یو اکاډمیکه ساحه پر غوره اخلاقو بنا شوه نو هیوادنی مینه، انسان دوستي، علم خوښونه او نورو کړنو سرچینه به وه اوسي.

### د اخلاقي کړنلارې شخصي هدف:

د رهبری، استادانو، د اداري کارمندانو او محصلینو د کره وړو لپاره د لارښود جوړل.

## دوهم څپرکی

## د استادانو د اخلاقو لوړ معیار

### دریمه ماده

استاد په علمي او اکاډمیک ماحول کې تر ټولو مهم او وړ کس دئ، استاد په ټولنه کې ترټولو عالي شخصیت بلل کیږي، په یو اکاډمیکه ساحه کې د استاد رول باید په لاندې ډول وي:

1. د اسلام د سپیڅلي دین او اساساتو بشپړ درناوی.
2. د اساسي قانون سره اړوند په هیواد کې ټولو نافذه قوانینو ته احترام او پابندي.
3. د لوړ زده کړو وزارت ټولو لایحو، مقرراتو، مصوبو ، او پریکړه لیکونو رعایتول.
4. خپلې دندې ته وفاداري او سپیڅلتیا ور په برخه کول د استاد له اکاډمیکو اخلاقو څخه شمیرل کیږي.
5. استاد باید تقوا لرونکی، اخلاص من او د خپل مسلک ښه پوره سلوک کوونکی شخص وي، حال داچه استاد له دې اخلاقو څخه برخمن دئ، که کوم وخت پورته موارد استاد پرځان عملي نه کړي محصلینوته ګټه نه شي رسولای.
6. استاد باید په خپله ښوونه کې رینښتینی وي، څکه علمي مطالب پوره دقت او اصلي سرچینې غواړي.
7. استاد باید لوړ هدف لرونکی، د قانون پابند او د وخت ښه مراعتوونکی وي.
8. استاد باید همیشه له بې عدالتیو څخه لرې عدالت پلوی شخص وي او هیڅ وخت خپل لوړ مقام تر سوال لاندې رانه ولي.
9. استاد باید له نورو استادانو، همکارانو او اداري کارکوونکو سره د مینې، ورورولۍ او عاطفې له مخې اړیکې ولري، له غرور، تکبر، حسد، ، تبعیض، او تعصب څخه ډډه وکړي.
10. استاد باید له ټولو استادانو، کارمندانو او محصلینو سره ښې اړیکې ولري، له شخصیت وژنې او تحقیر څخه باید ډډه وکړي.
11. استاد د تدریس سره سره باید محصلینو ته غوره لارښوونې او نیکې مشورې هم ورکړي، پرښو اخلاقو، تواضع، متقابل احترام او انسان دوستۍ باندې باید ټینګار وشي.
12. استاد باید ډیر مهربانه، زړه سوانده او همیشه د خپلو محصلینو په پرمختګ اوکامیابۍ خوشحالیدونکی شخص وي، د محصل هڅونه او له تحقیر څخه یې ځان ساتنه اساسي اصل دی.
13. استاد چه کومه خبره کوي باید هغه خپله هم عملي کړي ترڅو د استادي شخصیت ته صدمه ونه رسیږي، کوم وخت چه د خبرې او عمل ترمنځ فاصله راشي نو دشخصیت کمی احساسیږي.

Scanned with ACE Scanner

۶. د نظم او دسیپلین پوره مراعات کوونکی وي.

۷. د مراجعینو سره باید ښه رویه اوسلوک وکړي.

۸. په کار کې باید دقیق وي.

۹. په رسمي وخت کښې یوازې اداري کار وکړي.

۱۰. د خپلو همکارانو په کارونو کې پوره همکاري.

۱۱. د انتقاد او پیشنهاد کول مهارتونه ئې باید زده وي.

۱۲. د پوهنځی د ټولو تجهیزاتو ساتنه د اداري اصل په نظرکې نیول .

۱۳. د پوهنځی له اجناسو څخه شخصي استفاده باید ونه کړي.( ټلیفون ، کمپیوټر)

۱۴. د اړتیا په صورت کې که چیرې اداري کار د ادارې څخه بهر وي باید اجرا یې کړي.

۱۵. په غیرې رسمي وخت که چیرې په اداره کې اړتیا پیدا شي باید د کار لپاره اماده وي.

۱۶. کله چه په رسمي وخت کښې له اداري څخه وځي باید د د ښوونې او روزنې پوهنځی د رئیس او د نظم دسپلین کمیټې له مسؤل سره په اړیکه کې وي.

### شپږمه ماده

کوم وخت چه اداري کارکوونکي له پورته موارېدو څخه سرغړونه وکړي د لوړو زده کړو د مقرراتو او د ملکي ادارې د کارکونکي د چلند د اصولو له مخې باید اړوند مسئولینو ته جواب ورکړي.

Scanned with ACE Scanner

۱۵- د پوهنتون او پوهنځی انګړکې د بې ځایه ګرځېدو او راګرځیدو څخه ډډه کول.

۱٦- د پوهنتون او پوهنځی انګړاو درسي ماحول کې د هرډول سیاسي او ډله ییزو فعالیتونو څخه ډډه کول.

۱۷- د پوهنتون او پوهنځی انګړاو درسي ماحول کې د هرډول ناوړه کړنې څخه چه د ناامنی ، تاوتریخوالي ، بی نظمي ، تشنج او دښمني لامل کیږي ډډه کول.

۱۸- د پوهنتون او پوهنځی اړوند وسایلو ، لوازمو او سمسورتیا ساتنه کول.

۱۹- محصل / محصله چه د هردلیل پر بنسټ د تحصیلي پروګرام څخه ایستل شوې وي او دایستنې پریکړې یې قانوني پړاوونه طی کړي وي د دوهم ځل لپاره دې پرواګرام ته په هیڅ ډول لاره نشي پیدا کولی.

۲۰- محصل / محصله مکلف دی چې دلوړو زده کړو وزارت ،وردګ پوهنتون ،ښوونې او روزنې پوهنځی او د تضمین کیفی د نظم دسپلین کمیټې داصولو ،مقرراتو اولارښوونو په پام کې نیولو سره دملي او نړیوالو سرچینو څخه دخپلو کورنې کارونو او مونوګراف په ترسره کولو کې ګټه واخلي.

۲۱- پرتاکلي وخت په منظمه توګه په ټولګي کې درسونوته (په ټولګي کې په بحث کې فعاله ونډه اخستل) او ساحوي کارونو ته حاضریدل.

۲۲- د درسونو، کورنیو دندو د ترسره کولو او مونوګراف لیکلو کې داړوند لارښوداستاد دلارښونې په پام کې نیول.

۲۳- پرتاکلي وخت دکورنیو دندو ترسره کول اوسپارل.

۲۴- دښوونې او روزنې پوهنځی اړوند ټولو چارواوکنفرانسونو کې فعاله ونډه اخستل.

۲۵- دښوونې او روزنې پوهنځی اړوند مهالویش اوپلان سره سم د لیسانس د دورې په بریالیتوب سره پای ته رسول.

**اتمه ماده**

که دکوم محصل /محصله څخه د پورته مواردو په نه مراعت کولو کې سرغړونه اویا تیروتنه ترسره شوه په اړه یې د نظم دسپلین کمیټې ، دښوونې او روزنې پوهنځی او دوردګ پوهنتون له خواهر ډول پریکړې ته غاړه ایښودلو باندې ځان باید مکلف وبولي.

**یادونه: د نظم دسپلین کمیته د لزوم دید په صورت کې په پورته پالیسی کې د تغیر صلاحیت د ځان سره ساتي.**

د نظم او دسپلین کمیټې اخلاقي پالیسي ـ د اسلامي، اساسي، دلوړو زده کړو، وردګ پوهنتون او دښوونې او روزنې ادارې د قوانینو په رڼا کې تر زیاتو بحثونو وروسته په څلورو فصلونو او اتو مادو کښې ترتیب شویده.

Scanned with ACE Scanner

پورته اخلاقي پالیسي د نظم او دسپلین کمیټې په ۱۴۰۰/۳/۱۷ نیټه او ( ۳ ) پروتوکول کښې تائید او ثبت ده.

نامزد پوهنیار رحیم الله رحیمي

دنظم او دسپلین دکمیټې مسؤل

پاده اخلاقي پالیسي دښوونې او روزنې پوهنځی د رهبري شورا په ۱۴۰۰/۴/۹ نیټه او ( ۳ )گنه پروتوکول کښې تائید او ثبت ده.

دښوونې او روزنې پوهنځي رئیس

پوهنیار عبدالقدیر جلالي

۱۳۹۹

Faculty of Education